# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٤١ ګڼه / چهارشنبه ۲۲ شوال‌المکرم ١٤٤٥ هـ.ق / ۱۲ ثور ١٤٠٣ هـ.ش/ اول می ۲۰۲٤ میلادي


## علاقه‌مندی سرمایه‌گذاران هندی به سرمایه‌گذاری روی سنگ‌های قیمتی پنجشیر

ریاست اطلاعات و فرهنگ ولایت پنجشیر می‌گوید، تاجران هندی علاقه‌مند سرمایه‌گذاری روی سنگ‌های قیمتی در این ولایت هستند.

این ریاست در خبرنامه‌ای از سفر دو تاجر هندی از جمله ناگر، تاجر سنگ‌های قیمتی در هند به ولایت پنجشیر خبر داده است.

بربنیاد خبرنامه، این تاجر هندی طرح‌اش را برای سرمایه‌گذاری روی معادن سنگ‌های قیمتی پنجشیر با حافظ محمد آغا حکیم، والی این ولایت شریک کرده است. تاجران هندی امنیت سرتاسری در افغانستان به‌ویژه ولایت پنجشیر را ستایش کرده‌اند.

در همین حال والی پنجشیر از علاقه‌مندی تاجران هندی با سرمایه‌گذاری در افغانستان به‌ویژه ولایت پنجشیر، استقبال کرده است. آقای حکیم به تاجران هندی وعده هرگونه همکاری را در راستای سرمایه‌گذاری‌های‌شان در پنجشیر، داده است. انتظار می‌رود این تاجران هندی در نشست داوطلبی زمرد استخراج‌شده از معادن پنجشیر نیز، اشتراک کنند. در حال حاضر روند استخراج سنگ‌های قیمتی معادن پنجشیر به ویژه زمرد این ولایت، به‌گونه شفاف ادامه دارد.

ژاو شینګ:

# روابط چین با افغانستان در سطح منطقه بی‌نظیر است



ژاو شینګ، سفیر چین مقیم کابل می‌گوید، روابط میان افغانستان و چین در سطح منطقه بی‌نظیر است.

ارگ در خبرنامه‌ای گفته که آقای شینګ این مطلب را در دیدار با مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری رئیس‌الوزرا، بیان کرده است.

سفیر چین گفته که کشورش خواستار گسترش هرچه بیشتر روابط با افغانستان در حوزه‌های سیاسی، اقتصادی و فرهنگی است.

این دیپلماتی چینی افزوده که کشورش فرصت‌های خوب تحصیلی کوتاه مدت و میان مدت را به هدف ظرفیت‌سازی برای جوانان افغانستان، فراهم کرده است. او در عین‌زمان از کمک های ... ص۳

## اسلامي امارت د اوبو مدیریت او اوبه ییزو تاسیساتو ساتنې ته ژمن دی



د اوبو او انرژۍ وزارت وایي، چې د دغه وزارت سرپرست ملا عبداللطیف منصور د اوبه ییزو سرچینو د لیدو په موخه بادغیس ته سفر کړی دی.

ملا عبداللطیف منصور د دې ولایت د اوبه ییزو سرچینو د کتنې پرمهال ویلي چې اسلامي امارت د اوبو مدیریت او اوبه ییزو تاسیساتو خوندیتوب ته ژمن دی.

د یاد وزارت په وینا، ملا عبداللطیف منصور د مرغاب له سیند څخه د لیدنې پرمهال د دغه سیند د اوبو د مدیریت، اوبو ذخیره کولو، بندونو جوړولو، د برېښنا تولید او د اوبو لګولو کانالونو د سمون په برخه کې د همکارۍ ژمنه کړې ده.

د اوبو او انرژۍ وزارت همداشان د مرغاب سیندیزې فرعي حوزې له مسولینو سره په لیدنه کې د هغوی ستونزې اورېدلې او لازمې سپارښتنې ورته شوي دي. د یادونې وړ ده چې تر دې دمخه د اوبو او نرژۍ وزیر د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر سره په ګډه د پاشدان بند د پاتې چارو پرانیسته وکړه.

## ډاکټر قلندر عباد د سنوفارما درمل جوړونې له کارخونې لیدنه وکړه



د افغانستان اسلامي امارت عمومي ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد ورمه ورځ ماښام په خپل ایکس لیکلي چې د عامې روغتیا وزیر ډاکټر قلندر عباد د درمل جوړونې د سترې کارخونې(سنوفارما) له تولیداتو او فعالیتونو لیدنه کړې ده.

مولوي مجاهد په ... ۳مخ


افغان خاوره
د پردیو مانورو او تمریناتو ځای نه دی
۲

تلاش‌های امارت اسلامی
برای کاهش هزینه های کمرشکن عروسی
۲

افغان اعلانات
۳


سرمقاله

## د نظام د ټینګښت هڅه یو ستر مکلفیت دی

څرنګه چې له څو لسیزو راهیسې هر با احساسه افغان په دې ارمان دی چې په هېواد کې یې یو عادل، منظم، ځواکمن او مستحکم نظام واکمن وي څو په دې ډول زموږ ملت هم له نړیوالو سره سیال، له پردي احتیاجه خلاص، پر ځان بسیا او په سر لوړۍ سره ژوند وکړی شي. همدا وجه ده چې اوس هر لوستی، تجربه کار او په سیاسي وضعیت څه نا څه پوهېدونکی شخص تل په دې فکر کې وي چې په څه ډول به تر خپلواکۍ ګټلو وروسته موجوده واکمن نظام نور هم پیاوړی، منظم او په کورني او بهرني ډګر کې لازیات اعتبار ترلاسه کړی شي. دا یوه فطري او طبیعي تلوسه ده چې هر انسان له خپل وطن سره مینه لري، د خپلې ګټې لپاره هڅه هاند کوي او له همدې امله هر یوله خپلې پوهې او تجربې سره سم په دې اړه مختلف وړاندیزونه لري. مثلاً ځینې وایي ټولې اداري دې په مطلق ډول مخلصو مجاهدینوته ورکړی شي او یا دا چې ټول دې علماء او طالبان وي. ځینې وایي نه، جهاد یې خپل کار دی، خدای تعالی دې ورته قبول کړي، بلکې له اخلاص سره باید مسلکي وړتیا هم پام کې ونیول شي. ځینې وایي حکومت به هغه مهال مستحکم شي کله چې ولسي مشروعیت ترلاسه کړي، معنا دا چې ټاکنې دې وشي او شورا دې جوړه شي. بل نظر دادی چې د قومي مخورو، دیني علماؤ، سیاسي څېرو او نور تجربه کارو مشرانو په ګډون دې لویه جرګه راوغوښتل شي، اساسي قانون دې تدوین او د همدوی له منځه دې یوه با صلاحیته شورا او د همدې شورا له تایید سره دې ښه مسلکي او هېواد شموله کابینه هم وټاکل شي. بل لورته ځینې لا دا هم وایي چې همدا امارتي اداري او نظام دې وي خو چارواکي دې په اخلاص سره ملا وتړي، بیت المال سره دې پوره احتیاط کوي، مالي چارو کې دې نور هم شفافیت راولي، خلکوته دې روزګار پیدا کړي، اقتصادي پلانونه دې تطبیق کړي، ښوونې او روزنې ته دې توجه وکړي، د عدالت غوښتنې محاکموته دې لاس رسی اسانه کړي او یوازې سر کاري چارواکو ته دې په لوړو امتیازاتو ورکولو کې سخاوت نه کوي، بلکې تر کلکې محاسبې او څارنې لاندې باید ونیول شي. مطلب دا ټول وړاندیزونه د هېواد پرمختګ، د ملت سوکالۍ او نظام د ټینګښت لپاره ویل کیږي او هر سړی له خپل اجتهاد او پوهې سره سم څرګندونې کوي خو د خلکو له دې ګردو نظریاتو او وړاندیزونو دا کوچ راوځي چې باید د نظام د بریا، ټینګښت، سمون او استحکام لپاره تر هر څه مخکې د هوښیارو او تجربه کارو مشرانو خبرې واورېدلې او هغوی سره مشوره وکړی شي. په اختصار سره همدا ټکی خورا ډېر اهم دی نو خدای جل جلا له دې ټولو مشرانوته مخلص، هوښیار او تجربه کار مشاورین ور په برخه کړي او حقیقت هم دادی چې کله الله تعالی کوم مشرته د خیر اراده وکړي نو نیک وزیر او مشاور ورکوي.

## توزیع بیش از ۲۰۰۰ جواز کار در یک ماه گذشته در کشور

وزارت کار و امور اجتماعی اعلام کرده که دو هزار و ۱۱۵ قطعه جواز کار در یک ماه گذشته در کشور توزیع شده است.

این وزارت با نشر خبرنامه‌ای گفته که این تعداد جواز کار در ماه حمل سال‌جاری (۱۴۰۳ هجری خورشیدی) توزیع شده است.

بربنیاد خبرنامه، جوازهای کار از سوی ریاست عمومی منابع بشری وزارت کار و امور اجتماعی، توزیع شده است.

کارگران داخلی و خارجی از مستفید شدگان جوازهای توزیع شده کار در کشور گفته شده‌اند.

جوازهای توزیع شده در بخش‌های تحصیلات عالی، ادارات امارتی، خصوصی، تعلیمات مسلکی، عودت‌کنندگان، بکلوریا، خدماتی و کارگران موسسات و سکتور خصوصی بوده است.

در خبرنامه آمده که روند توزیع جواز کار نسبت به گذشته در حال حاضر در کشور، تسریع شده است.

این در حالی است که پس از حاکمیت امارت اسلامی تلاش‌ها به هدف اشتغال‌زایی در کشور، تشدید شده است.

## یوه میاشت کې له ګمرکونو زرګونو سوداګریزو جوپو تګ راتګ کړی

د مالیې وزارت ویلي چې د روان کال په لومړۍ میاشت کې د ګمرکونو له لارې زرګونو سوداګریزو جوپو تګ راتګ کړی دی.

مالیې وزارت وړاندې وایي چې ګمرکونو کې کورنیو او بهرنیو سوداګرو ته د پام وړ اسانتیاوې رامنځته شوې، د ګمرکونو ... ۳مخ



## افغان کروندګرو ته د بدیلو کښتونو پر موندنه بحث وشو

په قطر کې د افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي دفتر مشر سهیل شاهین د افغانستان لپاره د فرانسې سفارت له چارسمبالې جیان مارین شو سره کتلي دي. ښاغلي شاهین په خپله ایکس پاڼه لیکلي، چې په کتنه کې یې له جیان مارین شو سره افغان کروندګرو ته د بدیلو پروژو پر برابرولو سربیره له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د اسلامي امارت د تعامل په اړه هم خبرې کړي. دا کتنه وروسته له هغې ترسره کېږي، چې تر دې وړاندې د اسلامي



امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد ویلي وو، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د افغانستان اړیکې ورځ تر بلې د غوړېدو ... ۳مخ

## در پروژه های عمرانی، باید به نیازمندی ها و ساحات آسیب پذیر تمرکز شود

سرپرست وزارت اقتصاد در دیداربا رئیس اجرائیوی و هماهنگ کننده شبکه توسعه وی دفترآغا خان گفت: در پروژه های عمرانی، باید به نیازمندی ها و ساحات آسیب پذیر تمرکزشود.

دفتر مطبوعاتی وزارت اقتصاد دیروز با نشر این خبر گفته است: قاری دین محمد «حنیف » سرپرست وزارت اقتصاد با داکتر نجم الدین «نجم» رئیس اجرائیوی و هماهنگ کننده شبکه توسعه یی دفترآغا خان پیرامون فعالیت های بشری و انکشافی نهاد یاد شده بحث نمودند.


دراین ملاقات، رئیس اجرائیوی و هماهنگ کننده شبکه توسعه وی دفترآغا خان درمورد برنامه ها و پروژه های تحت کارشان در ۲۰ ولایت کشور معلومات داده و از تداوم مساعدت های بشری و کمک های انکشافی دفتر آغا خان به رهبری وزارت اقتصاد اطمینان داد.



سرپرست وزارت اقتصاد از فعالیت های دفتر آغاخان در ولایات مختلف کشور که در بخش های مختلف درهمکاری با وزارت ها وادارات سکتوری تحت اجرا است قدردانی نموده و یاد آور شد که درتطبیق پروژه ها ، به نیازمندی های مردمی ، تمرکز به ساحات آسیب پذیر و انکشاف توجه بیشترشود.

# افغان خاوره د پردیو مانورو او تمریناتو ځای نه دی

**وحیدالله – هڅاند**



د روسیې دفاع وزیر سرګي شویګو د شانګهای همکاریو سازمان د دفاع وزیرانو په غونډه کې یو ځل بیا تور پورې کړی، چې د شانګهای د همکاریو سازمان د غړو لپاره اصلي ګواښ له افغانستان متوجه دی او ترهګرې ډلې به منځنۍ اسیا ته ګواښ پېښ کړي، چې افغانستان کې حضور لري، د رویټرز خبري آژانس په حواله، شویګو په داسې حال کې پر افغانستان تور پورې کوي او د پوځي تمریناتو پر پراخولو ټینګار کوي، چې پر وینا یې په سیمه کې د امنیتي نفوذ د ډېرېدو لپاره د امریکا هڅې به دوی له مستقیم ګواښ سره مخ کړي او د شانګهای سازمان غړي هېوادونه باید د ثبات لپاره د خپلو پوځي تمریناتو لمن او جغرافیا پراخه کړي.

روسیه چې د چین او منځنۍ اسیا پر هېوادونو سربېره له اسلامي امارت سره غوره او نږدې تعاملات لري، خو افغانستان کې د نړیوالو ترهګرو ډلو د شتون تورونه په څه مانا !؟ د خندا وړ خبره داده، چې روسیه په داسې حال کې افغانستان د نړیوالو ترهګرو ډلو په شتون تورنوي، چې څه د پاسه څلوېښت کلنې جګړې وروسته افغانستان کې بشپړ امنیت راغلی او هېڅ راز وسله واله ډله پر افغان خاوره کې فزیکي حضور نه لري، په اوسني وخت کې د اسلامي امارت له لوري د داعش پر ګډون د نورو وسله والو ډلو پر وړاندې جدي مبارزه روانه ده او هیچا ته به اجازه ورنه کړي، چې افغان سپېځلې خاوره د ګاونډ، سیمې او نړۍ ته ګواښ پېښ کړي.

د افغانستان په تړاو د روسیې په څېر د ځینو هېوادونو تورونه او تشویشونه په داسې حال کې مطرح کېږي، چې له یوې خوا د دوی اجیره او کرایه شوې ډله (داعش) له منځه لاړ او د دوی ګټې خوندي نه کړای شوې، بل لوری واشنګټن په دې وروستیو کې په منځنۍ او سویلي اسیا کې د خپلو اهدافو د بېرته ترلاسه کولو هڅې ګړندۍ کړې، چې له افغانستانه د ایتلافي ځواکونو له وتلو وروسته له لاسه وتلي وو، په دې وروستیو کې یو ځل بیا د امریکا لوړ پوړ چارواکي د افغانستان په تړاو د سیمې له هېوادونو سره د بحث لپاره پر سفرونه پیل کړل او په سیمه ییزو مسایلو او دوه اړخیزو همکاریو مفصل بحثونه درلودل.

په سیمه کې وروستیو سیاسي بدلونونو او حالاتو ته په کتو داسې ښکاري، چې نړۍ دوه قطبي کېدو لور ته روانه ده. روسیه غواړي د خپلو اهدافو او موخو د ترلاسه کولو لپاره افغانستان د جګړو په ډګر بدل کړي او له سرپرست حکومت او افغان ملت سره دوه مخی سیاست لوبوي، خو غربي نړۍ هم د ګاونډ او سیمې هېوادونو په څېر د افغانستان له ولس، جغرافیې او دولتمدارانو سره دوه مخې لوبه مخته وړي او غواړي خپلو رقیبانو ته له هرې ممکنې لارې ماتې ورکړي او افغانستان خاوره کې د تېرو کلونو په شان خپل زورآزمایي او مانورې ترسره کړي، له افغانستان سره د چین او روسیې نږدېوالی امریکا دې ته مجبوروي، څو په سیمه کې د خپلو موخو د تعقیب لپاره له یو شمېر هېوادونو سره اړیکې وپالي.

د ګاونډ او سیمې هېوادونو ته د امریکایي پلاوي سفر داسې مهال پیلېږي، چې د اسلامي امارت په راتلو سره ګاونډي، لرې او نږدې هېوادونه افغانستان ته سفر کوي، لکه د مالیزیا او اسلامي کنفرانس پلاویو راتلل، د قزاقستان، ترکمنستان او قرغزستان هېوادونو پلاوي راتګ، د چین پانګونه او داسې نور... امریکا غواړي چې له قافلې وروسته پاتې نه شي، دلته خپل سیاست فعال کړي او د افغانستان په مسایلو کې ځان دخیل وبولي؛ نو همدې لپاره یې قطري، پاکستاني او د نورو هېوادونو له چارواکو سره د افغانستان په تړاو قطر کې ملاقاتونه لري.

راځو اصلي خبرې ته؛ که په سیمه او نړۍ کې د بحث اصلي موضوع له ترهګرۍ سره په واقعي مانا مبارزه وي، نو د بېځایه تورونو او او ادعاوو پر ځای دې ګډه نړیواله اجماع رامنځته او افغانستان ته دې هم په کې ځای ورکړل شي، ځکه په ځلونو اسلامي امارت د سیمې او نړۍ هېوادونو ته ډاډ ورکړی، چې د افغانستان له خاورې به پر هېڅ هېواد برید و نه شي؛ نو آیا د سیمې او نړۍ هېوادونه هم افغانستان ته دا ډاډ ورکولی شي، چې د هغو ډلو تېلو د تجهیز، تمویل او مدیریت مخه به ونیسي، چې د افغانستان ملي ګټې ګواښلی شي؟

څه د پاسه څلور لسیزې وشوې، چې د ګاونډ، سیمې او نړۍ هېوادونه د خپلو ګټو او مغرضانه اهدافو د ترلاسه کولو لپاره یې پر افغانستان جګړه تپلې وه او له دې لارې یې غوښتل، چې د افغانستان ملي، اقتصادي او معنوي ګټې وګواښي او افغان بېچاره ولس تل د دوی تر اغېزې لاندې دوی ته محتاج وي، خو دوی که د تېر په شان د افغانستان د ملي ګټو پر وړاندې د توطیې هوډ لري، ډېره تېروتنه کوي، ځکه اوسنی حکومت د افغان ولس په پوره ملاتړ، قوي عزم او ټینګه مبارزه منځته راغلی او هېچا ته به د دې اجازه او وخت ورنه کړي، چې د افغانانو په کورنیو او خپلمنځیو چارو کې مداخله وکړي او یا یې د تېرو لسیزو په شان افغان خاوره د دوی د پوځي مانورو او تمریناتو په ډګر بدله شي.

# فلسطین او اتیا کاله مبارزه

**څلورمه برخه / ژباړن: سلطان جان خاکسار**

**د تاریخ تر ټولو ستر اعتصاب او د فلسطین انقلاب**

د شیخ عزیزالدین قسام مړینه د فلسطیني وګړو د مبارزو په تاریخ کې د عطف نقطه ده. د فلسطیني ځوانانو پرله پسې مبارزې د فلسطین په ټولو ښځو او نارینه و د جګړو روحیه او انګېزه پیدا کړه. همدا علت و، چې په ۱۹۳۶ کې د امین الحسیني په مشرۍ د عربو عالي کمېټه رامنځته شوه، تر څو د تاریخ تر ټولو ستر اعتصاب ته لوری ورکړي. یوه یادونه ضروري ده چې د فلسطیني وګړو په سوله ییزو مبارزو او پرلتونو هېڅکله بریتانیا دې ته حاضره نه شوه چې د یهودانو له ډله ییز کوچ څخه لاس په سر شي. همدا علت و چې وروسته له دې مسئله مسلحانه مبارزې او جهاد ته ووته او د وسله والې مبارزې اعلامیه رسماً صادره شوه. خلکو د فلسطین له انقلاب سره په مستقیمه توګه خپله همکاري پیل کړه. فلسطیني مجاهدینو وکولی شول چې د پرله پسې بریدونو په پایله کې یهودیان شاتګ ته اړ کړي او د فلسطین په ګڼو ښارونو کې د فلسطین بیرغ ورپوي. دغه مبارزې تر ۱۹۳۹ کاله پورې وغځېدې.

د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د جهادي فعالیتونو په جریان کې خنډ و ځنډ راغی، خو کله چې دویمه نړیواله جګړه پای ته ورسېده نو ډېر یهودان فلسطین ته کډوال شول او فلسطیني بومي اوسېدونکو سره یې اخ و ډب زیات شو.

**د فلسطین وېش او د اسراییلو ظهور:**

یهودان چې کله په ډله ییزه توګه په فلسطین کې ځای پر ځای شول، نو په شورشونو یې لاس پورې کړ او بریتانیا په ملګرو ملتونو کې د دې وګړو د مستقل دولت پر سر د رامنځته کولو بحثونه پیل کړل. د ملګرو ملتونو کارپوهانو د یهودانو غوښتنې او وړاندیزونه راټول او د عمومي ناستې ګډونوالو ته یې وسپارل. د یوې طرحې پر بنسټ فلسطین په منځ کې ووېشل شو، چې یوې خوا یهود او بلې خوا عرب پاتې شول. په همدې اساس په ۱۹۴۷ کې ملګرو ملتونو عمومي غونډه راوغوښته او فلسطین یې په دوو هېوادونو فلسطین او اسراییلو ووېشه چې د فلسطین ۵۲ سلنه خاوره د اسراییلو او ۴۸ سلنه د فلسطینیانو په برخه ورسېده. د دغې طرحې له تصویب سره سم یو ځل بیا په ټول فلسطین کې غوغا او د جهادي فعالیتونه معرکه ګرمه شوه.

**اسراییل د یوه هېواد په توګه:**

د اسراییلو له تشکیل یو کال وروسته(۱۹۴۸) کې انګلیسان له ټول فلسطین څخه ووت او د یهودانو د فعالیت او د یوه خپلواک هېواد په حیث د حکومتولۍ پوره زمینه یې ورته برابره کړه. همغه و، چې انګلستان په رسمي توګه په فلسطین کې اسراییل د یوه خپلواک هېواد په حیث اعلان او معرفي کړ. په ملګرو ملتونو کې د امریکا استازي هم اسراییل د یوه خپلواک هېواد په حیث ومانه. یهودانو چې کله په ملګرو ملتونو کې خپل هېواد ثبت او رسمي ولید، نو په نڅا او ګډا یې پیل وکړ او همدغه ظالمانه پرېکړه وه، چې زرګونو بې پناه فلسطینیانو ګاونډیو هېوادونو ته مهاجرت وکړ.

**اسراییل او عرب:**

د ۱۹۴۸ کال د عربو او اسراییلو جګړه:

د سیمې عربي هېوادونو پرېکړه وکړه چې پر فلسطین ګډ برید وکړي او یهودان له دغې ځمکې وشړي. دا وخت امریکا او فرانسه هم تازه د یهودانو ملاتړ ته راوتي وو او د وسله والې مبارزې ډېره شونتیا نه لیدل کېده. بیا هم په ۱۹۴۸ کال کې د عربو او یهودو لومړۍ جګړه پېښه شوه. عربو له شمال، لوېدیځ او ختیځ څخه پر اشغالي فلسطین بریدونه پیل کړل، ډېرې سوبې یې په برخه شول، ښارونه یې په یو بل پسې لاندې کړل؛ حتی د اسراییلو تر پلازمېنې تل اویو پورې ورسېدل، خو دغه مهال فرانسې او انګلستان مستقیمه مداخله وکړه، د امنیت شورا یې د دواړو خواوو ترمنځ سولې او د اوربند یوه پرېکړه لیک ته راوبلل چې عرب ځواکونو له مجبورۍ اوربند ته غاړه کېښوده او خپل ځواکونه یې له سیمې ووېستل. دغه وخت اسراییلو له دې اوربند پوره ګټه واخیسته، له اروپا یې بې دریغه نظامي وسلې او مهمات راوچلول، خپله اردو یې پیاوړې کړه او د امنیت شورا پرېکړه یې څېرې او جګړه یې پیل کړه. دغه وخت د عربي، فلسطیني او مصري ځواکونو د غفلت له وجې اسرایلو جګړه توده کړه او ګڼې سیمې یې ونیولې. اسراییلو دا ځل د فلسطین ۷۸ سلنه خاوره خپله کړه او خپل توغ یې پرې ودراوه. د شلمې پېړۍ په پینځمه لسیزه کې سوکه سوکه جهادي مبارزو زور واخیست او د همدغو کلونو زلمیانو د کډوالۍ پر مهال خپل ټاټوبي ته د راستنېدنې په فکر کې شول.

**جمال عبدالناصر او فلسطین:**

په ۱۹۵۲ کې د اردو ځینې افسرانو د جمال عبدالناصر په ملتیا کودتا وکړه او د مصر واکې یې په لاس کې واخیستې او ځان یې ولسمشر اعلان کړ. ده په لومړیو کې ځان د اخوان المسلمین مبارزینو ته نږدې کړ، د فلسطین د ازادولو شعارونه یې بدرګه کول خو لږ وخت وروسته عربي نړۍ له نوموړي نهیلې شوه. عربي نړۍ هیله ښودله چې جمال عبدالنصاصر به وکولی شي چې فلسطین ازاد کړي. نوموړي د دې چارې لپاره د سوریې پوځ له ځان سره یوځای کړ. بدبختانه جمال عبدالناصر ډېر ژر د اخوان المسلین ګوند چې په مصر کې تر ټولو ستر حزب و، وتاړه، سرلاري یې بندیان او یا هم اعدام کړل. حتی د اخوان المسلمین کسان یې ډېرې ترور او په شهادت ورسول. له دې وروسته د مصر له سیاسي حوزې اخوان المسلین لیرې شو او د یهودانو پر خلاف د مبارزې انګېزه خفه شوه. دغه مهال د یهودو پر خلاف د نورو جهادي ګروپونو انګېزه هم ومروړل شوه او همدغه و، چې اسراییلو لا خپلو تېریو ته دوام ورکړ. په ۱۹۵۶ میلادي کې اسراییلو د انګلستان او فرانسې په مرسته پر مصر برید وکړ او د سینا سارا او د غزې ترانګې ګڼې برخې په خپل لاس کې ونیوې. وروسته انګلستان او فرانسې خپل ځواکونه وویستل. امریکا هم د دې طرحې برخه وه چې وروسته یې په اشغالي سیمو کې یهودان ځای په ځای کړل.

**د ازادۍ ښبونکو او (فتح) غورځنګ تاسیس:**

په ۱۹۵۹ میلادي کال کې یو شمېر فلسطیني ځوانان د وسله والې مبارزې په فکر کې شول او غوښتل چې یې یو سیاسي، فکري او وسله وال ادرس رامنځته کړي. د دغه غورځنګ غړي په ټولو عربي هېوادونو کې تیت و. دغه ځوانانو له بېلابېلو اندونو سره یوځای او د فتح په نامه د یوه غورځنګ بنسټ کېښود. د دغه غورځنګ مشري له یاسر عرفات سره وه، خو له لسو کلونو شعارونو او غورځو پورځو وروسته هم ونه توانېدل چې پر اسراییلو یرغل وکړي. یو ځل بیا په ۱۹۶۷ میلادي کال اسراییلو له هوا او ځمکې له لارې پر مصر هوایي حملې وکړې او په شپږو ورځو کې یې د سینا سارا، غزه، بیت المقدس، د سوریې جولان او نورې ګڼې برخې مستعمره کړې. یو ځل بیا نږدې یو میلیون فلسطیني مسلمانان بې کوره او د یهودو هېواد درې برابره ستر شو. د یهودو له دغو پرله پسې بریا وروسته عرب سخت زیات نهیلي شول او د خپل بخت ستورې یې تت لیده. هماغه و چې د فلسطین د ازادۍ غورځنګ سره یې غاړه یوړه او په ګڼو عربي هېوادونو کې یې چریکي بریدونه وکړل. دغه غورځنګ اردن کې ځای په ځای شو او هلته یې ګڼ کسان جذب کړل.

# خلیفه او مېږیان

**ژباړه: امان الدین قاسمي**

د عثماني امپراتورۍ خلیفه سلطان سلیمان قانوني (رحمه الله) ۱۵۲۰ ز. د ماڼۍ ساتوونکو ورته خبر راووړ، چې د ماڼۍ د خرماو پر ونو مېږیان مسلط شوي، څه ورسره وکړو؟ پاچا له تجربه لرونکو ملګرو سره له مشورې وروسته، پرېکړه وکړه، چې باید ونې په ګچ وپوښل شي، تر څو د مېږیو مخه پرې ونسي خو د ښاغلي قانوني عادت و، چې هېڅ پرېکړه به یې د وخت د شیخ الاسلام له فتوی پرته نه کوله، نو ځکه یې دا مسئله هم د شعر په بڼه شیخ الاسلام ته داسې ولیکله: ((اذا دَبَّ النمْلُ علی الشجر،فهل فی قَتْله مـن الضرر)) ژباړه: که مېږیان په ونه وخېژي، نو وژل یې ګناه لري؟

کله چې لیک شیخ الاسلام ته ورسېد، نو هغه هم د شعر په بڼه داسې ځواب ورکړ: (( اذا نُصب میزانُ العدل ـــ غداً یاخذ النمل حقه بلا خَجِل.))

ژباړه: کله چې سبا د قیامت په ورځ د عدل تله قایمه شي؛ نو مېږیان به هم خپل انتقام بې له خجالته اخلي.

کلونه وروسته سلطان سلیمان قانوني (رحمه الله) د «زیکتور» جګړې ته د سفر پر مهال ومړ، جنازه یې «استانبول» ته راوړل شوه، د ښخولو پر مهال مالومه شوه؛ چې پاچا امر کړی، تر څو یو صندوق هم ورسره ښخ کړای شي. د صندوق په لیدو علماء هیښ شول، فکر یې وکړ شاید په دې کې خزانه وي، نو ځکه یې د ښخولو فتوا یې نه ورکوله او غوښتل یې چې صندوق وګوري.

بالاخره صندوق خلاص کړل شو؛ چې وی لیدل د شیخ الاسلام د فتوا کاغذ په کې پروت و!!

شیخ الاسلام ابوسعود (رحمه الله) د دې صحنې په لیدو سخت وژړل او بیا یې وویل: سلیمانه! تا خو ځان خلاص کړ، خو که زما فتوا غلطه وي؛ نو کومه ځمکه به ما د الله له عذابه وژغوري!

# تلاش‌های امارت اسلامی برای کاهش هزینه های کمرشکن عروسی

**داوود ناظری**

شماری از جوانان می گویند، در وضعیت فقر و بیکاری کنونی درکشور، تامین هزینه های سنگین ازدواج (تا یک میلیون افغانی) از توان آنان خارج است و برای تامین آن مجبور هستند مهاجرت کنند.

**غلام حضرت باشنده کابل به روزنامه شریعت می گوید:** یک جوان در این وضعیت بیکاری در طول عمر خود نمی تواند ده لک افغانی را پوره کند. او اشاره می کند که بخاطر هزینه سنگین ازدواج، سن اش از ۴۰ گذشته، اما هنوز نتوانسته عروسی کند و مجرد است. او تاکید می کند که این گناه خود مردم است که رسم و رواج ها را بالابرده است. فاطمه خاشعی از دیگر باشندگان کابل از خانواده ها می خواهد که در قسمت ایجاد سهولت در ازدواج فرزندان شان بیشتر توجه کنند.

**نجیبه مصباح زاده استاد حوزه و دانشگاه به روزنامه شریعت می گوید،** سنگین شدن هزینه ازدواج، سبب افزایش طلاق، خشونت های خانوادگی، محرومیت های آموزشی و مشکلات متعدد دیگر شده است. به گفته وی، فروپاشی نظام اقتصادی خانواده بخاطر ازدواج، سبب می شود تا یک عمر عروس منت خانواده داماد را بکشد و طعنه بشنود. از نظر ایشان هزینه کمرشکن ازدواج سبب ازدواج های ناسالم شده که آثار و پیامدهای آن در جامعه دیده می شود.

**حجت الاسلام عطایی کارشناس امور دینی به روزنامه شریعت می گوید،** از نظر دین اسلام، بهترین ازدواج آسان ترین آن است. وی اشاره می کند که بخاطر فقر و مشکلات اقتصادی، پرونده های طلاق در دفتر مراجع تقلید قطور شده است و هزینه سنگین ازدواج این موضوع را بیشتر ساخته. آقای عطایی تأکید می کند که از نظر اسلام گرفتن شیربها و مصارف بی جا در عروسی حرام است.

**حجت الاسلام محمد آصف مصباح رئیس حسینیه های اهل تشیع در وزارت حج و اوقاف به روزنامه شریعت می گوید،** تا اکنون در امر کاهش هزینه عروسی فقط در حد توصیه به مردم عمل کرده وبعد از این فیصله های عملی صادر خواهد شد و به شکل جدی از هزینه های کمرشکن جلوگیری می شود. آقای مصباح نیز می گوید، رسم و رواج های فعلی کاملاً در مغایرت و مخالفت با دستورات دینی است.

# جنسي ځورونې او جنسي تيري

په غربي هېوادونو کې جنسي تيري او جنسي ځورونې يوه لويه ننګونه ده چې هر کال د ميليونونو خلکو پر ژوند فزيکي او رواني اثرات غورځوي د امريکا د جنسي ځورونې ملي منبع مرکز او احصائيې له مخې په هرو پنځو ښځو کې په يوه ښځه او (۷۱) سړيو کې په يو سړي د هغوی په عمر



کې يو ځل جنسي تيری کېږي او يا د تيري کوښښ پرې کېږي.
دا په داسې حال کې چې د پېښو اکثريت قربانيان له (۳۰) کلونو څخه کم عمره دي هغه داسې چې ۸۳ سلنه يې له ۱۲ تر ۳۰ کلو عمرونه لري.
په پورتنۍ فيصدي کې له نيمايي نه په زياتو بې له ۱۸ کلنۍ ته له رسيدو مخکې جنسي تري کېږي. په امريکا کې د جنسي تيريو شمېره له يو ايالت نه بل ايالت ته توپير لري. هغه ايالتونه چې کم ښارونه لري په هغو کې د جنسي تيريو شميره له هغو ايالتونو چې ښارونه لري لوړه ده. ځکه چې خدماتوته لاس رسی نلري او يا پوليسوته راپور نه ورکوي.
د مثال په ډول د امريکا کليفورنيا په ايالت کې (۱۸۱۱۶) پېښې ثبت شوې چې د دې په تړاو يواځې (۲۰۶۰) تنه پوليسو د جنسي تيري په نوم او (۷۲۸۵) نور يې د جنسي ځورونې په تور نيولي چې له پورته شمېرو معلومېږي چې يواځې نيمايي پېښو ته رسېدنه شوې او پاتې نور مجرمين ازاد کړځي. په اوسط ډول امريکا کې هر کال په (۴۳۳۰۰۰) تنو جنسي تيري کېږي. دا هغه هيواد دی چې اسلامي نړۍ ته د بشري حقونو د خوندي کولو چيغې وهي او خپل هيواد نوروته د امنيت نمونه ښودل غواړي.

**صحرايي**

## روابط چين با افغانستان در سطح ...

ده‌هزار دالری صليب سرخ چين برای زلزله‌زدگان در افغانستان، خبر داده است.
در همين حال، مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری رئيس‌الوزرا روابط ميان افغانستان و چين را تاريخی عنوان کرده و برعزم امارت اسلامی برای تداوم اين رابطه، تأکيد کرده است.
آقای حنفی، موضع‌گيری چين در نشست‌های بزرگ بين‌المللی در قبال افغانستان را نشاندهنده سياست درست اين کشور بيان کرده است.
اين در حالی است که چين پيش از اين نيز به قربانيان زلزله‌های ويرانگر سال پار در هرات، کمک‌های بشردوستانه، انجام داده بود.

## ډاکټر قلندر عباد د سنوفارما درمل ...

خپل اېکس ليکلي: د هېواد د روغتيا وزير ډاکتر صاحب قلندر عباد په شتون کې مو په کندهار کې د دوا جوړونې سترې فابريکې سنوفارما له کارونو، توليداتو او د فعاليت له بېلابېلو برخو څخه ليدنه وکړه.
د ښاغلي مجاهد په قول چې ددغې کارخونې د درملو کيفيت ښه دی، خلک يې خوښوي او د روغتيا وزارت د ملاتړ ډاډ يې هم څرګند کړی دی.
ښاغلی عباد کندهار ته د خپل سفر په ترڅ کې د ميرويس حوزوي روغتون له روغتيايي خدمتونو څخه هم ليدنه کړې ده. روغتيا وزارت وايي چې ډاکټر عباد د دغه روغتون کارکوونکو ته لازمې سپارښتنې کړې او د روغتيايي چوپړونو د لاپياوړتيا او د پرسونل د ظرفيت لوړونې ډاډ يې ورکړی دی.

## يوه مياشت کې له ګمرکونو زرګونو ...

فعاليتونه ۲۴ ساعته شوي، فساد له منځه تللی، برېښنايي سکنرونه او لوړ وزن مالومونکې تلې فعالې شوي او توکي پر وخت له اداري چارو خلاصيږي.
په همدې بنسټ، د روان مالي کال په (وري) مياشت کې د هېواد له ګمرکونو څخه، د نږدې (۵۰) ميليارده افغانيو په ارزښت، زرګونه وارداتي، صادراتي او ترانزيټي جوپو ټک راټک کړی دی. ددغو سوداګريزو جوپو ټولټال وزن ۱.۷ ميليونو ټنو ته رسيږي.
د يادونې وړ ده، چې په تېر (۱۴۰۲) مالي کال کې ګمرکونو چارو د (۱۴۰۱) کال په پرتله (۸.۲) سلنه پرمختګ کړی او په روان مالي کال کې به د چمتو شوي پلان له مخې د ګمرکونو چارې لا رنې او ښې شي.

## افغان کروندګرو ته د بديلو ...

په حال کې دي. ښاغلي مجاهد زياته کړې وه، چې د اسلامي امارت په اغېزمن سياست سره د سيمې او نړۍ هيوادونو له افغانستان سره د اړيکو ارزښت درک کړی او د افغانستان په پاليسيو کې کومه ستونزه نشته.
د يادونې وړ ده، چې په دې وروستيو کې د اسلامي همکاريو د سازمان د مرستيال په مشرۍ د لوړ پوړي پلاوي پر راتګ سربيره افغانستان ته د روسيې، ماليزيا، قرغزستان، ترکمنستان، اروپايي ټولنې اونورو ډيپلوماټانو سفرونه د اسلامي امارت د فعالې ډيپلوماسۍ ښودنه کوي.

## د لايسنس او جواز سير پر برېښنايي...

د موټرچلونې جواز او لايسنس د برېښنايي کېدو چاپ دې د ترافيکو عمومي رياست ته وسپارل شي. د ترافيکو عمومي رياست دې د کورنيو چارو وزارت په همغږۍ ژر تر ژره د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د موټرچلونې جواز او لايسنس د برېښنايي کېدو پروسه پيل او د تاييدۍ لپاره يې د اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي.

## اشتغال‌زايی به فارغ‌التحصيلان جديد ...

سرپرست وزارت تحصيلات عالی افزود که اميرالمؤمنين دستور گزينش فارغ‌التحصيلان به فرصت‌های شغلی را چند روز پيش در يکی از جلسات، ابراز کرده است.
شيخ نديم در بخشی از سخنان‌اش بار ديگر تکرار کرد که امارت اسلامی تنها نظامی است که به امور دنيوی و اخروی رايت فکر می‌کند.
اين مقام کابينه امارت اسلامی شاخصه‌های نظام کامياب و مسؤول را نيز توضيح داده است.
گفتنی است که ديروز محصلان پوهنتون پل تخنيک کابل فراغت‌شان را از مقاطع تحصيلی ليسانس و ماستری از رشته‌های مختلف جشن گرفتند.

## عينک کې تر ۱۰ زرو زيات پخواني ...

موزيم ته ليږدول شوي او ځينې نور يې چې د ليږد وړ نه دي په هماغه ځای کې ترې ساتنه کيږي. بل لور ته د ملي موزيم مرستيال وايي، په وروستي يو کال کې دغه موزيم ته د مس عينک څه باندې څلور سوه تاريخي او لرغوني آثار ليږدول شوي دي.

## پکتيا کې زرګونه هکټاره وچ شوي ...

ويلي، چې په تېرو ۵ کالو کې يې شاوخوا ۹۳۰ هکتاره ځنګلونه بيا احيا کړي، چې نيمايي يې جلغوزي او نيمايي يې غوزان دي. بسمل زياتوي، چې د ځنګلونو تل پاتې پروژې له لارې يې يوازې سږ کال پسرلني کمپاين کې تقريباً ۶۶ زره د چهارمغزو او بادامو نيالګي کېنولي. مسوولين وايي، چې په مستقيم ډول د ځنګلونو بيا احيا کولو په موخه يې نيالګي کرلي او پلان لري، چې په ټولو ولسواليو کې تخريب شوي ځنګلونه بيا احيا کړي.

## توزيع کمک‌های بشردوستانه به بيش ...

بربنياد خبرنامه‌ها، کمک‌های برنامه جهانی غذا به نيازمندان در ولايت‌های، ميدان‌وردک، کاپيسا، پکتيکا، کندز، ننگرهار، پکتيا، غزنی و سرپل توزيع شده است.
به گفته وزارت احياء و انکشاف دهات، کمک‌های برنامه جهانی غذا شامل مواد خوراکی و پول نقد بوده است.
در خبرنامه‌ها آمده که در روند توزيع کمک‌های بشردوستانه، رياست‌های ولايتی وزارت احياء و انکشاف دهات نقش همکاری در توزيع و تشخيص خانواده‌های نيازمند داشته‌اند.
اين در حالی است که روند توزيع کمک‌های بشردوستانه به نيازمندان در همکاری با وزارت احياء و انکشاف دهات، در ولايت‌های مختلف کشور، ادامه دارد.


# افغان اعلانات

### اعلان تدارکات

عنوان پروژه: پروژه تدارک ۲ قلم تيل هوايی TC-1 و JP8 ضرورت قطعات و جزوتام های قوه هوايی و مدافعه هوايی وزارت دفاع ملی (٤ لات) برای سال مالی ۱٤۰۳

شماره داوطلبی:
NPD/MoD/1403/G-190/NCB

رياست تدارکات ملی رياست عمومی اداره امور ا.ا.ا به نمايندگی از وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرايط دعوت می نمايد تا در پروسه داوطلبی پروژه تدارک ۲ قلم تيل هوائی TC-1 و JP8 ضرورت قطعات و جزوتام های قوه هوايی و مدافعه هوايی وزارت دفاع ملی (٤ لات) برای سال مالی ۱٤۰۳ (لات اول: قومندانی لوای هوائی کابل، لات دوم: قومندانی لوای هوايی کندهار، لات سوم: قومندانی لوای هوايی مزارشريف و لات چهارم: قومندانی لوای هوائی شيندند هرات) با شماره داوطلبی: NPD/MoD/1403/G-190/NCB اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه را از ويب سايت های رياست عمومی اداره امور {https://aop.gov.af/dr/access_to_information/administrative} يا تدارکات ملی {https://tenders.ageops.af/prs/bid-opportunities-notices} يا وزارت دفاع ملی {https://mod.gov.af/dr/all-tenders} بدست آورده، آفرهای خويش را مطابق شرايط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاريخ نشر اعلان الی ساعت ۹:۰۰ ق.ظ مورخ ۲٦ ثور ۱٤۰۳ به آمريت سکرتريت تسهيلات آفرگشائی رياست تدارکات ملی، جوار قصر مرمرين رياست عمومی اداره امور ا.ا.ا واقع پشتونستان وات، کابل - افغانستان ارايه نمايند. آفرهای ناوقت رسيده و انترنتی قابل پذيرش نمی باشد.
داوطلبان که شرطنامه را بدست می آورند، معلومات شرکت خويش را به منظور دريافت بموقع تعديلات شرطنامه در صورت لزوم به ايميل آدرس npd.bidding2@gmail.com و کاپی به vyarmassoud@gmail.com ارسال نموده و در وقت ضرورت به شماره ۰۲۰۲۱٤۳۲۷٤ تماس گرفته حل مطلب نمايند.
تضمين آفر بصورت ضمانت بانکی و مبالغ مندرج شرطنامه بوده و جلسه آفرگشايی به ساعت ۹:۰۰ قبل از ظهر بتاريخ ۲٦ ثور ۱٤۰۳ در صالون هندوکش رياست تدارکات ملی، جوار قصر مرمرين رياست عمومی اداره امور ا.ا.ا واقع پشتونستان وات، کابل - افغانستان تدوير می يابد.

***

### اطلاعيه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حامد الياس لمتيد يک عراده موتر پليت ۸۹۲٦-۳ ش کابل نوع تيوتا کرولا سالون خويش را بعد از طی مراحل قانونی خريد و فروش بالای ازمری فرزند حاجی محمد نادر بفروش رسانيده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتيکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه يوم به مديريت ترافيک کابل اطلاع دهند. ۷۲۹

***

### اطلاعيه فروش موتر

اسامی محترم شرکت رشيد خليل لمتيد يک عراده موتر پليت ۳۸۳۵۱- ش کابل نوع تيوتا کرولا غرفه دار خويش را بعد از طی مراحل قانونی خريد و فروش بالای محمد عارف فرزند سيد گل بفروش رسانيده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتيکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه يوم به مديريت ترافيک کابل اطلاع دهند. ۷٤۸

***

### اطلاعيه فروش امتياز دواخانه

محترم عبدالله پوپلزی فرزند محمد فاروق پوپلزی ولديت عبدالغنی پوپلزی دارنده تذکره نمبر ( ۳۰۲۲۸-۰٦۰۰-۱۳۹۸ ) مسکونه اصلی ولايت کابل مالک امتياز دواخانه آريا شريفی واقع ناحيه هفتم ولايت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادويه افغانستان عارض و خواهان فروش امتياز دواخانه خويش بالای محترم نور الله علم فرزند عنايت الله علم ولديت محمد عليم دارنده تذکره شماره ( ۸۱۰٤۲-۱۲۰۳-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولايت لوگر گرديده است .
اشخاص موسسات ودواير دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاريخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادويه افغانستان واقع ده افغانان تعمير قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمايند. ۷٤٦

***

### اطلاعيه به کرايه دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی يک باب دفتر مساحت ۱٦.٤۱ متر مربع واقع سالون ارايول منزل اول ترمينل بين المللی ميدان هوائی بين المللی کابل را به اجاره ميدهد.
اشخاص که خواهش به اجاره گرفتن مساحت متذکره را از طريق پروسه مزايده داشته باشند ، از تاريخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز درخواستی های خويش را به آمريت املاک ، رياست املاک و خدمات، وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصاری وات بسپارند . شرطنامه دربدل ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت برای متقاضيان توزيع ميگردد.۷۳۸

***

### اطلاعيه به کرايه دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی يک پايه بلبورد ( دو وريه) به مساحت ۷۲ متر مربع واقع بالای ديوار پارکينگ وسايط (شرق ترمينل محلی ) ميدان هوائی بين المللی کابل را جهت نصب اعلانات را به اجاره ميدهد.
اشخاص که خواهش به اجاره گرفتن مساحت متذکره را از طريق پروسه مزايده داشته باشند ، از تاريخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز درخواستی های خويش را به آمريت املاک ، رياست املاک و خدمات، وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصاری وات بسپارند . شرطنامه دربدل ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت برای متقاضيان توزيع ميگردد. ۷۳۹

***

### اطلاعيه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حسيب صديقی لمتيد يک عراده موتر پليت ۹۵۷۸۹-۲ ش کابل نوع تيوتا کرولا سالون خويش را بعد از طی مراحل قانونی خريد و فروش بالای صدرالدين فرزند امر الدين بفروش رسانيده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتيکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه يوم به مديريت ترافيک کابل اطلاع دهند.۷۳۳

# Shariat

**Published by**

Islamic Emirate of Afghanistan

M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies

0782080666

Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852

Email: info@shariatdaily.com

WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

# شریعت

د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:

م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦

مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲

مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰٦۲۸۳۲

د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ

**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Wednesday 01 May 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 441


# د لایسنس او جواز سیر پر برېښنایي کېدو بحث وشو



د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې په نوبتي غونډه کې د موټرچلونې او لایسنس د برېښنایي کېدو پر طرحه بحث وشو. د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې دا نوبتي غونډه پرون په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. په دغه غونډه کې له اجندا سره سم د موټرچلونې پر جواز او لایسنس د برېښنایي کېدو پر طرحه او یوشمېر نورو موضوعاتو هراړخیز بحثونه وشول. په غونډه کې تر هراړخیز بحث وروسته د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د کار فشار ته په کتو اقتصادي کمېسیون ته وړاندیز وشو، چې ... ۳مخ

## رویدادهای خارجی

## امریکا کې پولیس په نښه شوي

امریکایي چارواکي وايي، په شمالي کارولینا کې د ډزو په پایله کې درې پولیس افسران وژل شوي او پنځه نور ټپیان شوي دي.

د شارلوت - مکلنبرګ د پولیسو اداري مشر جاني جیننګ په یوه خبري غونډه کې ویلي چې دا پېښه د شمالي کارولینا په «شارلوټ» ښار کې شوې ده.

د دغه هېواد د چارواکو په وینا، ډزې هغه مهال شوې چې د شالوت د پولیسو د ځانګې افسران د یوه شکمن د نیولو لپاره د هغه کور ته روان وو.




جاني جیننګ ټینګار کړې چې دغه کور د امنیتي ځواکونو له خوا تصفیه شوی او بالاخره د ده په انګړ کې په دې جګړه کې شکمن کسان هم وژل شوي دي.

د راپورونو له مخې چې په دې پیښه کې درې تنه پولیس وژل شوي او په پنځو ټپیانو کې د یو کس روغتیایي وضعیت نازک ښودل شوی دی.

تر دې مخکې امریکایي چارواکو ویلي چې د ټینیسي په ایالت کې د ډزو په پایله کې دوه تنه وژل شوي او شپږ نور ټپیان دي.

د ویلو ده چې په امریکا کې وسلهوال تاوتریخوالی په بې سارې ډول زیات شوی چې زیاتره بریدونه په ښوونځیو، کلیساګانو او له بیروبار په ډکو ځایونو کې کېږي.

## نخست‌وزیر پاکستانی‌تبار سکاتلند استعفا کرد

حمزه یوسف، نخست‌وزیر اسکاتلند از مقام‌اش کناره‌گیری کرده است.

آقای یوسف روز (دوشنبه، ۱۰ ثور) در یک کنفرانس خبری استعفا خود را اعلام کرده است.

نخست‌وزیر پاکستانی‌تبار اسکاتلند پس از اعلام توافق شراکت با حزب سبزهای این کشور، از مقام‌اش کناره‌گیری کرده است.

یوسف هفته‌ای پیش توافق شراکت قدرت با «حزب سبز اسکاتلند» را پایان داد. گفته می‌شود که از آن زمان به بعد تحت فشار زیادی قرار داشته است.

حمزه یوسف حین اعلام استعفایش گفته است: من به این نتیجه رسیدم که ترمیم رابطه در شکاف سیاسی تنها با شخص دیگری در راس آن انجام می‌شود.

آقای یوسف رهبر حزب ملی اسکاتلند است. او نخستین رهبر مسلمان یک حزب سیاسی در بریتانیا است که به مقام نخست‌وزیری اسکاتلند رسیده است.




## ترکیه کې یوه ښځه په ۱۸۰۰ کاله بند محکومه شوه

ترکیې په ۲۰۲۲ کال کې د یوې چاودنې په پلانولو تورنه شوې یوه ښځه په اووه ځله عمري بند او ۱۸۰۰ کاله بند محکومه کړه.

ترکي رسنیو په دې وروستیو کې د استانبول د ښارنوالۍ د دفتر په حواله خبر ورکړی، چې د دغې ځوانې ښځې نوم «احلام البشیر» دی او په ۲۰۲۲ کال کې یې د استانبول په تقسیم څلورلارې کې په یوه بمي برید کې ۶ کسان وژلي او ۹۹ نور یې ټپیان کړي وو. د ترکیې سترې محکمې یو حکم صادر کړ چې له مخې یې دغه ځوانه ښځه په ۷ ځله عمري بند او ۱۸۰۰ کاله بند محکومه شوې ده او د دغې پرېکړې پر بنسټ البشیر د یووالي د له منځه وړلو او قصدي وژلو په تور سخته جزا ورکړل شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې د ۲۰۲۲ کال د نومبر په ۱۳مه د ترکیې د استانبول ښار په مرکز تقسیم سیمه کې چاودنه وشوه چې په پایله کې یې ګڼ شمېر کسان مړه او ټپیان شول.





**توجه !**

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!


## شیخ ندا محمد ندیم: امیرالمؤمنین‌خواستار اشتغال‌زایی به فارغ‌التحصیلان جدید پوهنتون‌های کشور است




شیخ ندا محمد ندیم، سرپرست وزارت تحصیلات عالی کشور می‌گوید، امیرالمؤمنین به وی دستور داده که زمینه اشتغال‌زایی و کاریابی به فارغ‌التحصیلان جدید از پوهنتون‌های کشور را فراهم کند.

آقای ندیم این مطلب را در مراسم فراغت شماری از محصلان پوهنتون پل تخنیک از مقاطع لیسانس و ماستری در کابل، بیان کرد. ص۳


## عامې روغتیا وزارت ۵۰ ټنه بې کیفیته درمل له منځه وړي



عامې روغتیا وزارت خبر ورکړی، چې د کندهار ولایت د عامې روغتیا ریاست له لوري ۵۰ ټنه راټول شوي بې کیفیته او تاریخ تېره درمل یې له منځه وړي دي. یاد وزارت ویلي، دغه اندازه درمل د روغتیایي قوانینو د بررسۍ ټیم او د اړوندو ادارو استازو په ګډه د دوام دارو ښارنو په پایله کې د یاد ولایت د مرکز او بېلابېلو ولسوالیو له درملیزو تاسیساتو څخه د تېرو شپږو میاشتو پر مهال راټول کړي دي.

دغه اندازه درمل وروسته له هغې راټول او سوځول کېږي، چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د هېوادوالو د ژوند ژغورلو په موخه په بازارونو کې د تاریخ تېره او بې کیفیته خوراکي، غیر خوراکي او درملو په اړه په پراخه کچه کمپاین دوام لري، چې په ترڅ کې یې په سلګونو ټنه بې کیفیته او تاریخ تیره خوراکي توکي راټول شوي.

## عینک کې تر ۱۰ زرو زیات پخواني اثار موندل شوي



د مس عینک کان له تثبیتېدو راهیسې تر ۱۰ زرو زیات لرغوني اثار موندل شوي دي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت وايي، په دې اثارو کې د کوشانیانو، ساسانیانو او یفتلي دورې شاملې دي. د دغه وزارت ویاند وايي، دغه اثار د مس عینک کان له تثبیتیدو راهیسې ترلاسه شوي چې یو شمېر یې ملي ... ۳مخ


## اسلامي پراختیایي بانک ۱۴ پروژې پلې کړي




د اسلامي پراختیایي بانک د راپور پر بنسټ، تېر کال په افغانستان کې د څه باندې ۳۵ میلیونه ډالرو په ارزښت ۱۴ پروژې پلې شوې دي. د دغه بانک د لومړني راپور له مخې له ۳۵ میلیونو ډالرو څخه څه باندې ۲۴ میلیونه ډالره د افغانستان د بشري مرستو د وجهي صندوق له لارې لګول شوې دي. خو د اقتصاد وزارت له افغانستان سره د بشري مرستو دوام د فقر د له منځه وړلو لپاره مهم بولي. د اسلامي پراختیا بانک د ۱۹۷۵ کال د اوکتوبر په شلمه د ۲۲ اسلامي هېوادونو لخوا د سعودي عربستان په جدې ښار کې د ۷۵۵ میلیونو دینارو په لومړنۍ پانګونې سره جوړ شو چې موخه یې د اسلامي قوانینو پر بنسټ د غړو هېوادونو او مسلمانو ټولنو اقتصادي پراختیا او ټولنیز پرمختګ دی.

## پکتیا کې زرګونه هکټاره وچ شوي ځنګلونه بیا زرغون شوي

د پکتیا د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین وايي، چې د ځنګلونو د بیا احیا کولو باندې کار کوي او د دغه ولایت په ۷ ولسوالیو کې یې په سلګونه هکتاره ځنګلونه بیا احیا کړي دي. د یاد ریاست د طبیعي ځنګلونو عمومي مدیر اصف الرحمن بسمل ... ۳مخ




## توزیع کمک‌های بشردوستانه به بیش از ۱۵هزار خانواده در ۸ ولایت کشور

در ادامه توزیع کمک‌های بشردوستانه به خانواده‌های نیازمند در کشور، برنامه جهانی غذا (WFP) به بیش از ۱۵ هزار خانواده در ۸ ولایت کشور، کمک کرده است.

وزارت احیاء و انکشاف دهات در خبرنامه‌های جداگانه از توزیع این کمک‌ها، خبر داده است. ۳مخ

